شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۵/۲۹

# سياسي توافق او د ولس غبرګون

د يوې ټولنې د ترقي او پرمختګ يو تر ټولو اساسي لامل د هغې ټولنې د اوسيدونکو تر منځ يووالي، ګډې موخې، د ټولنې او هيواد سره مينه او هيواد پالنه ده.

دا چې زموږ هيواد کې زموږ د ټولنې وګړي د سلګونو ستونزو سره لاس او ګريوان دي، اساسي لامل يې همدا دی، چې د هيوادوالو تر منځ د پرديو په لمسون د نفاق او بې باورۍ تخم کرل شوی او ورځ تر بلې مو سره پاشي او خپلې موخې عملي کوي.

نفاق او بې باوري ستر مرض دی. ټولو ته جوته ده چې کلونه کيږی، چې زموږ په هيواد کې د نيابتي جګړی يو ستر لامل همدا د قومونو، تنظيمونو، سازمانونو تر منځ د نفاق د هغه کور سوزونکي اور د لمبو نتيجه ده، چې هيواد او ولس يې د وژلو او له منځه وړلو له توان نه عاجز او کمزوري دي.

د نفاق او بې باورۍ لامل په هيواد کې د فساد، چور، اختلاس، د قانون د حاکميت کمزورتيا، د دموکراسی د اصولو نه عملي کيدل، د ټاکنو په پروسو باور له منځه تلل او سلګونه نورې منفي پديدې را زيږولي، چې زموږ د هيواد له سترو نيمګړتياوو نه يې حسابولي شو.

له پورته ځرګندونو نه مې موخه داده، چې د همدې بې باوريو او نفاق په نتيجه کې وليدل شوول چې دوه واره په هيواد کې د ټاکنو ملي پروسه ګواښمنه شوه او د (نه يې منم) د مردودې جملې په تکرار په هيواد کې ډيرې ناخوالې رامنځ ته شوې.

د دوه زره څوارلسم کال ټاکنې د نفاق او بې باورۍ په نتيجه کې د ملی يووالي د حکومت په جوړيدو د پرمختګ پر ځای دومره جدی ستونزی را وکرلې چې تر اوسه يې د سرپرستو وزيرانو ستونزی نه دي له منځه تللې.

همداډول تيرځل د پارلماني ټاکنو پروسه او د جمهوری رياست د ټاکنو په پروسه کې رامنځته شوې ستونزی، هغه څه دي چې هيوادوال يې د خورا ستری نا اميدی سره مخ کړي دي.

په ټاکنو کې د بې اعتمادۍ او بې باورۍ کچه دې پولې ته ورسيده چې په يوه ورځ دوو جمهورو رئيسانو د لوړې مراسم تر سره کړل چې دغه شرمونکی عمل په نړۍ کې ساري نه درلود.

له رواني ستونزې نه د قومي، ګروپي او سمتي تضادونو چيغې پورته کوول، هيواد د ستونزو او بحران لور ته کشول په داسي وضعيت کې چې له يوې خوا له طالب وسلوالو سره د سولې خبرې رواني وې او له بله پلوه د کورونا وبا د يو ستر ګواښ په توګه هيواد ته را وغزيد، هيواد والو ته يې خورا جدی انديښنې رامنځ ته کړې.

جمهور رئيس محمد اشرف غنی چې د ټاکنو د کميسون له خوا د منتخب جمهور رئيس په توګه معرفي شوی و او عبدالله هم چې ځان يې په خپله جمهور رئيس معرفي کړی و د سترو ګواښونو او ناندرو د رامنځته کيدو په نتيجه کې نړيوالې ټولنې او هم د امريکا د فشار په نتيجه کې دا دی يوځل بيا د تير په شان په شکلي توپير سره د سياسي توافق له لاری چې موخه يې د راتلونکې بحران مخنيوی و رامنځ شو.

سياسي توافق، تفاهم، يووالي او ګډ کار يو مثبت عمل دی، خو د څه له پاره؟ د چا تر منځ، د کومو موخو د عملي کولو له پاره، هغه اساسي سوالونه دي، چې هيوادوال يې له خورا ډيرو انديښنو سره مخ کړي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

زما په اند هیوادوال په دې هکله له بیلا بیلو زاویو او سوچونه سره په دې رابطه نظرونه او اندیښنې لري چې دا یوازې زما نظر او تفکر نه دی، بلکې زموږ د هیواد په اکثرو ولایتونو او له هیواده بهر په ډیرو هیوادو کې د روڼ اندو افغانانو، ټولنیزو او مدني ټولنو غړو او یو شمېر ډېرو په هیواد مینو هیواد والو سره د تماس او نظرونو د غورچاڼ نتیجه ده چې د روان سیاسي توافق په هکله چې د محمد اشرف غنی او عبد الله عبدالله تر منځ لاسلیک شوی په درې کټګوریو کې د لوستونکو پام ورته را اړوم:

۱- له پنځوس نه زیاته سلنه هیوادوال په هیواد کې دننه او له هیواده بهر د دغه سیاسی توافق په رابطه مخالف نظر لرې او تیرو ترخو تجربو ته د پاملرنې په نظر کې نیولو سره دا توافق هم عملي نه بولي او هم د عبدالله عبدالله موقف د سولې د پروسې د رئیس په توګه د باور، اعتماد او د سولې په پروسه کې د جمعیت یا شورای نظار د تنظیم دغړو غوښنه برخه چې د طالبانو په مقابل کې د مقاومت او مخالفت لوری و، ناشونی بولی او عملي یې نه ګڼي. بله لویه اندیښنه دا ده چې د سیاسي توافق منځګړیتوب د داسې ځیرو له لارې تر سره شوی. چې د هیواد د بدبختی، فساد، اختلاس، د ځمکو دغصب او د ملي ارزښتونو د لیلام کولو مسؤلیت په غاړه لری، د دوی برخه، یا هلې ځلې د سیاسي توافق په رابطه د داسي ځیرو د بیا د حضور او شتون نه په نظام او حاکمیت کې کومه بله مانا نه لري او دغه توافق نه تنها دا چې د ستونزو یا د بحران د ختمیدو لامل نه شي کیدای، بلکې نوری ستونزی به راوزیږوي او د نظام او دولت د عملی چارو مخه به نوره هم له بې ځایه غبرګونونو او تضادونو سره مخ کړي. د مثال په توګه لکه د تیر په شان پنځوس سلنه حاکمیت کې شراکت، د دولت د عالي شورا جوړیدل د اساسي قانون سره په تضاد کې او داسې نور مسایل چې د بحران او وخت د ضایع کیدو لاملونه یادولی شو. تر هغه ځایه چې لیدل شوی د طالبانو تحریک هم دغه سیاسی توافق رد کړی او د وخت ضیاع یې ګڼلی ده.

۲- د پورته په شان د هیواد په دننه او بهر کې شل سلنه هیواد وال سیاسي توافق ته د بحران د حل د لار په توګه د خوشالتیا په سترګوګوری، خو له ځانګړو اندیښنو سره، هغه دا چې ایا د عبدالله عبد الله شتون به د سولې په پروسه کې څومره اغیزمن وی او یا نه؟ همدا ډول د سولې په چارو کې به د عبدالله عبد الله ریاست دغه نهاد په یو قومي ګروپي او خاص تنظیمي قرارګاه بدل نه کړي؟ ایا پنځوس سلنه په نظام کې برخه به د کاری ظرفیت، تحصیل او مسلک، لوړتیا، هیواد او لوړوکتو ته د ژمنتیا پر بنیاد وی او که د ګروپیکو تمایلاتو، تنظیمي تقسیماتو، د تنظیمي مشرانو د ځامنو او نورو منفي پدیدو د خوندی ساتلو په خاطر؟ ایا بیا به د دوارو مشرانو د کشمکش په نتیجه کې په بحران کې نور بحرانونه رامنځ ته نه کړی؟ ایا محمد اشرف غنی به څومره همدی سیاسي توافق ته ژمن پاتی شي؟ او داسي نور سلګونو سوالونه او اندیښني شته چې هیواد وال یې له پوښتنو او غبرګونونو سره مخ کړی دی.

۳- د دیرش سلنې په شاو خوا کې هیواد وال په هیواد دننه او له هیواده بهر د دې سیاسي توافق نه ملاتړ کوی او د دې تر څنګ امریکا او د افغانستان بین المللی همکاران او ناټو هم ورته په ښه نظر ګوری.

که چیری وکتل شي دغه دیرش سلنه کې هغه کسان شامل او د یادولو وړ دی چې د هیواد په څلوېښت کلنه جګړه کې یې ډېرځه تر لاسه کړی، بیت المال او د هیواد طبعي زیرمې یې لوټ کړی، د جګړی اصلي لاملین دی، د بشر د حقوقو ناقضین او د هیواد د ټولو بد بختیو اساسی څېرې دی.

دوی د بهرنیو هیوادو د ګټو مدافعین او ساتونکي دي دوی په هیواد کې د ځینو حریصوګاونډیو شانته د یو قوی او باثباته مرکزي حکومت د شتون سره مخالفت لری او هلې ځلې کوي چې په هیواد کې ضعیف پاشلی حکومت شتون ولري تر څو دوی د پوښتنو او محاکمې میز ته راکش نه کړی.

دا هغه قومي، ګروپي، تنظمي او په نوم جهادي مافیاوي دی چې هیواد او ولس یې کلونه کلونه له سترو بد بختیو او غمیزو سره لاس او ګریوان کړی دی.

خورا ډېرافغانان همدا اوس هم په دې باور دی چې:

«ازموده را ازمودن خطا است».

او سوچ کوی چې دغه سیاسي توافق بې له دی چې نوری ستونزی راوزیږوی، دهیواد او ولس په ګټه به داسي څه تر سره نه شي چې د نظام د پیاوړتیا سره مرسته وکړی او یا د سولې د رواني پروسې په چارو کې به عملی او د هیواد او ولس په ګټه داسی څه تر سره شي چې ولس یې تمه لری.

**د یو موټي او واحد افغانستان پر لورا!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ